مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۹/۱۹

# د ولی خان د یوې کیسې په پلمه

د ولی خان د قیصو څخه ده، چې غني خان په هکله وايي:

ولی خان وایی زه د غني خان سره  په کټ کې نژدې ناست وم ،نو هلک راغی ،او وي وئیل : چې یو ملا راغلی غواړي چې غني خان ووینی ،نو غني خان ووئیلي :چې نه ځي دي ،پرې ږده،نو ولي خان وایي :چې ما ورته ووئیل :چې دا ستا ولی د ملا سره نه لګې ، هغه ووئیل:چې زما د ملا سره هیڅ دښمنی یا فرق نشته ، صرف فرق دا دی ، چې ملا وایي خدای تعالی ، جبار و قهار دی ، زه وایم چې خدای رحمان او رحیم دی ، نو پر ځای د دي چې ته د هغي نه مونږ و ایروې ، نو مونږ پر هغه مئین کړه ، که ته وایي چې هغه جبار و قهار دی ، نو ته ما ایره یې ،که ته ووایي : چې هغه رحمان او رحیم دی ، نو ته ما مئینوې ، نو دي دواړو کې لوی فرق دی ،  ، نو ولی خان وایي چې ما ووئیل : چې یاره هغه راغلی او درې ګنټي (ساعتونه) یې تیر کړي ، پرېږده چې راشي ، ملا راغی او په کوم کټ کې چې غني خان ناست وو، مخامخ ورته کښیناست،  ،   ، نو ملا یو رومال د جیبه څخه راویست ، او رومال یې پراو(خلاص)کړ ، یو رومال او پر له پسي نور رومالونه یې خلاص کړل ،نو یو وړوکی کاغذ یې د ګنو دستمالونو د مینځه څخه راویست ،نو هغه یې غني خان ته په دواړو لاسو، وړاندی کړ، او غنی خان  ته یې ووئیل : چې خانه! دوه نیم سوه رکعته نفل می کړي او تول شپه می عبادت کړی ،او دا تعویز می تاته جوړ کړی ،چې د توپک ګولی به درباندی اثر نه کوي ، نو غني خان توپک ته لاس کړ ، نو ملا ته یې ووئیل : چې ملا ودرېږه ، ملا دوه خپي خپلي کړي او دوه پردي کړی او ترپ یې وهل ، نو غني خان ووئیل : چې عجیبه سړی یې ماته وایي ،  چې د توپک ګولي به دربانډی اثر نه کوي ، چې ستا سر ته راغله بیا منډي وهي او ځغلي ،نو که دا رېښتیا وای نو ضرور به دي خپل ځان ته اول جوړ کړی وای.

د دي خوندوري کیسي په استناد ریشتیا هم ډیری ملایان په خپلو تقریرونو کي تل د خدای تعالی د قهر او غضب څخه غږیږي ،زما یوه خاطره رایاده شوه ، چې د هجرت په موده کې  زمونږ د کورنی د یو تن مشرانو سره جومات ته ولاړو ، ملا په خپل تبلیغ کې سر تر پایه د خدای تعالی په قهر او  غضب باندی وغږیده ، د رحمت خو ورسره هیڅ ټکي هم نه وو ،نو زمونږ دي مشر مخ رواړاوو ، او وي وئیل : کوم خدای چې دی یادوي د ده د خپل ذهن تخلیق دی ، او د دوی د د مدرسو د استادانو تخلیق دی ، زه خو د خدای تعالی رحمت ډیر بی پایانه وینم ،خو یوه خبره یې ډیره ژوره وه چې د جومات نه بهر یې وکړه ، چې هغه قدرمنو لوستونکو سره شریکوم ،او وي وئیل : (د دي نه چې د دي ناصح بی اثره او بی روحه تبلیغ می اوریده که یو ساعت د ځان سره په خلوت کې ناست وای ،او په ژور فکر می د خدای تعالی په هستی او نظام می فکر کړی وای دا به ښه وای ،او خدای تعالی ته ورنژدې کیدم له دې نه چې دا بی روحه او بی تأثیره وینا او تبلیغ می واورید ) نو په کار ده چې د ښینتن تعالی په رحمانیت ، بخشایش او کرم په هکله هم و  غږیږي ،ځکه د خدای تعالی د بخایش او کرم دریاب ډیر پراخه دی ، همداغه ده چې ، حضرت بیدل علیه الرحمه وایی : چې یاربه ! څه پراخه غیږه ده ستا د رحمت د څپو ، چې هر څوک هیڅ خواته لاره نه لري ، ستا په لور راځي:

**چي آغوش است یارب! موجه دریای رحمت را**
**که هر کس ره ندارد هیـچ سو، سوی تو می آید**

دغسي متعصبیینو ته د ډیرو لوړو شاعرانو له خوا څه نیغ په نیغه او یا په کنایه کې وئیل شوي ، او یا اشاری شوي ،او د دي ټکي د پوهولو د پاره یې د لنډو کیسو ،انتباهي مطالبو ،تعلیمی ، تربیوي مطالبو څخه د روښانتابه د پاره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کار اخيستی دی ،او دا ځکه چي دا تنګ نظران اصلاح کړي ،او خدای تعالی د بخشايش د پراخي غيري نه يي با خبره کړي ،نو شعراوو ،اديبانو، پوهانو،د علم او معرفت خاوندانو ،متصوفينو، عالمانو د خدای تعالی د رحمت غيږه ډيره پراخه بللي ده،
نو په کار ده چي د خدای تعالی د ګرَم او بخشايش اړخ هم له پامه و نه باسو ،د عبدالباري جهاني دا شعر دی چي وايي:

**ته يي د قهره له خـلوته راوتلــــی نه شي**
**ما د کرَم په طمع زر ځلي توبی ماتي کړي**

د تاريخ په اوږدو کي زمونږ لوی متصوفين ، او د دين عالمانو هغوي چي د مطالعی دنيا يي نسبت و يو عامی او بيسواده ملا په پرتله خورا ډيره او پراخه ده ، نو هغوي د خدای د رحمت او عام ايثار ډير لوی صفت کړی ،حضرت بيدل فرمايي :هغه کسان چي خيره بينان دي ،يعنی چي په سترګو يي روښانه هر څه نه ښکاري ،نو درحمت غيږه ډيره تنګه ويني ، نو وايي چي ځمکه او آسمان يو عام ايثار او بخايش دی ، چي دا په خپله د خدای تعالی د بخشايش او قدرت ښکاره نمونه ده ،بيا نا اميدی څه په کار ، نو راځئ چي د رحمت د دي خلاصي دروازي نه نور دا د تهمت ګرد جارو کړو ،
او هغه شعر دا دی :

**بيا تادی کـــــــــنيم ، فـــردای قـــيامت را**
**که چشم خيره بينان تنګ ديد آغوش رحمت را**

**زمين تا آســـــمان ايثار عام ، آنګـــاه نوميدی**
**بروبيـم، از دِر باز کرَم اين ګرد تهـــــــمت را**

بيدل

حضرت ابو سعيد ابوالخير چي ډير لوی او يو عظ يم عارف دی ، په دې فارسی شعر کي د خدای تعا لی د رحمت ښخه پدي شعر کي داسي يادونه کوي ،

**ای سِر تو در سينه يي ، هر محرم راز**
**پيوســـته دِر رحمت تو ، بر همــه باز**

**هر کــــــس که به درګاه تو آورد نياز**
**محــــــروم ز درګاه تو ، کی ګردد باز**

همدارنګه د ناصحانو د سوړ او بی روحه بحثونو په هکله چي هيڅ يو تعليمي ، تربيوی ، انتباهی ، رنګ په کي نشته ، حضرت بيدل عليه الرحمه داسي وايي :

**مرګ اهلِ سوز باشد ، حرفِ سَرد نا صحان**
**شمع را تيغ است بيدل ، جنبشِ دامان صبح**

د ملنګ جان د شــــــعر هم بنه دی چي وايي :

**چي زړه د ناصحانو وي ،ډک شوي له حسد نه**
**وينا کي تأثير نه وي ، سامعان څه ملامت دي**

په بل شعر کي شيخ ابوسعيد ابوالخير رحمت الله عليه وايي چي ياربه د ګرَم له نظره پر ما نظر وکړه ، پر ما نظر مه کوه ، د خپل په ګرَم نظر وکړه ،که هر څومره ستا د بخشايش لايق نه يم ،زما په ستومانه او پريشانه حال نظر وکړه ،

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**یارب ز کرم ، بر من درویش نگر**
**در من منــگر در کرم خویش نگر**

**هر چند نیم لایق بخـــــشایش ، تو**
**بر حال من خســـــته دلریش نگر**

نو د خدای تعالی د فضل رحم او کرم په هکله بل ځای بیا شیخ ابوسعید علیه الرحمه په خپل یو بل شعر کې وایي : یعني چې یاربه ټولو تحفه د عود د لرګي چې یو خوشبویه لرګی دی ، راوړی ،معنی دا چې ټولو اعلی تحفه راوړي ، او ما د ولی لرګی راوړی ، چې یعنی ټولو با ارزښه ډالی تاته نورو راوړي ،او ما هیڅ هم تا ته نه دي راوړي ، خو ما تور مخ او سپین ویښتان تا ته راوړي ، دا چې تا پخپله وئیلي چې نا امیدی کفر دی، نو ستا فرمان می وړی ، نو ستا حضور ته می ،امید راوړی ،
او په دې فارسي شعر کې یې داسې فرمائیلي :

**عودم چـــــو نبود ،چـــوبِ بید آوردم**
**روی ســــــیه و، موی ســـپید آوردم**

**چون خود گفتی ،که ناامیدی ، کفر است**
**فرمــانِ تو بُردم و ، امـــــــــید آوردم**

د امید او هیلی ډیر لوی او عظیم درس په کې پروت دی ،
په بل ځای کې بیا وایي : چې د هر تیاره انسان زړه او ضمیر شیخ ابوسعید علیه الرحمه په خپله دغه ګهر باره وینا روښانه کوي ،یعني چې د خدای تعالی د رحمت د دریاب ستاینه په کې ده ،چې هر څوک په هر مذهب او طریقت چې یې ، راځه زمونږ په لور راځه ، که کافر ،کبر او بت پرست یې ،زمونږ دا درګاه د ناامیدی درګاه نه ده ، که سل ځله دي توبه هم ماته کړي وي ، نو بیا هم راځه

**باز آ باز آ هر آنــچه هستی باز آ**
**گر کافر و گبرو بت پرستی باز آ**

**این درگه ما درگه نومیدی نیست**
**صد بار اگر توبه شکســتي باز آ**

ابو سعید ابوالخیر

بل ځای با وجود د دې څخه چې خپله ډیر لوي عارف زاهد او عابد دی، هغه زاهدان چې د علم او معرفت نه لیري دي ، څومره چې ستا بی پایانه رحمت او کرم دی ، په دې صفت تا زاهد نه پیژیي ،هغوي چې بیګانه دي د آشنا په څیر چې د علم او معرفت خاوندانو ته اشاره ده تا نه پیژني ،نو خدای تعالی ته وایی چې تا ووئیل :چې د ګناه په صورت کې دې دوزخ ته بیا یم ، نو دا هغه چا ته ووایه چې لکه آشنا تا ونه پیژني ،

**زاهد به کَرَم ، ترا چـــو ما نشناسد**
**بیگانه ترا ،چـــو آشـــــنا نشناسد**

**گفتی که گنه کني ، به دوزخ بَرَمت**
**این را به کســی گو ،که ترا نشناسد**

حضرت بیدل علیه الرحمه خو دومره اندازې ته د خدای تعالی د رحمت او بخشایش غیره پراخه ویني ، چې وایی د دې دومره پراخه غیرې د رحمت ته هماغسی د ګناه څخه ډکه لمن په کار ده ،د هغې حریم ته به غیر د ګناه څخه ننوتل هم ګناه کاری ده ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**محیط بحرِ رحمت ،دامن آلوده می خواهد**
**گناه ناکرده رفتن ، در حریم او گنهکاریست**

بل ځای وایي : د عاجزی او بی حسابه قدرت په مینځ کې به څه حساب وي ،ته هماغه د رحمت بی پایانه دریاب یې ،زه و هماغه گناه کول

**به جهان عجز و قدرت ، چه حساب دارد اینها**
**تو و صد هزار رحمت ،من و یک گناه کردن**

که په خلاصو سترگو انسان نظر وکړي ، نو د دي دومره عارفانو د کلام ښخه دا جوته کیږي ،چې د پوره علم په حصول سره انسان خدای تعالی ته نور هم نژدي کیږي ،لکه دي شمعی په څیر، د علم په لاره کې انسان باید ځان وبیلي کړي ، تر څو خدای تعالی و پیژني ،

**چو شمع از پی علم باید گداخت**
**که بی علم نتوان خدا را شناخت**

په پوره شناخت سره ،د نژدی کیدو با وجود د الله تعالی د رحمت دریاب هم د زړه په سترگو کتلی شي
د حضرت محمد (ص) وینا ده چې :د دین په اموراتو کې آسانه ونیسئ ،او سخت گیره مه اوسئ ،زیری ورکړئ ، او مه بیزاره کوئ ،( صحیح بخاری)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ